# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
|---|---|

محمد هارون خیل شعشعی

۰۸ می ۲۰۱۲

# په ویلو او لیکلو کي همرنگي یا نیژدې والی

## دوهمه برخه

### په ویلو او لیکلو کي د همرنگی یا نیژدې والي دپاره باید څه وکو؟

د وینگ او کښنگ تر منځ د همرنگی یا نیژدې والي په خاطر باید تر وسه وسه کوښښ وکو، چي لیکل د ویلو تابع کو. د دي خبري مانا دا ده، چي د خپلي ژبي په لیکدود کي بایدد نورو ژبو د املایي دود او دستور له کورکورانه پاللو څخه لاس واخلو. نوري ژبي پوهېږي، خپل لیکدود او املایي سیستم یي . لکه څنګه چي مخکي هم یادونه وسوه، د ژبي د لغوي زېرمي د پراخولو او شتمن کولو دپاره به د اړتیا پر مهال د نورو ژبو له بېلابېلو ټکو څخه پراخه ګټه اخلو؛ خو سره له دي به هم هر څه د خپلي ژبي د ویونکود اسانی په مقصد له خپلو ږغیرو ځانګړتیاوو او ګرامري قواعدو سره برابروو. زموږ خلګو له سوو کلو راهیسي د پارسي ژبي « لشکر» ، « آبدست »، «شادی » په « لښکر»، « اودس » او « ښادي » اړولي دي؛ عربي « نَفْس »، « نعره »، « مسجد» او «تعبیه» تي (ته یي) د« نوس »، « ناره »، « ماجت/ ماجیت » او « تابیه/ تابیا» رنګ ورکړئ دئ . هندي الاصله ټکو لکه : « ادا»، « بوجهـ »، « جهګړا»، « دکهـ »، « دهندها»، « دهوکا»، « ډهول »، « ګهړی » او سوو نورو تي هم د « اډه »، « بوج »، « جګړه »، « دوک »، « دنده »، « دوکه »، « ډول »،« ګړی » او داسي نورو په بڼه، پښتني جوله ورکړي ده . د ځینو ټکو پر ظاهري جولي سربېره یي د هغو په مانا او مفهوم کي هم بدلونونه او زیاتوني راوستي دي؛ لکه عربي« نعره » چي (چي یي) په شکلي بدلون سره په « ناره » اړولي؛ اوپه مانوي بدلون سره یي پر عربي مانا ( چغه/ چیغه) سربېره، یوه بله پښتو مانا هم ور زیاته کړې ده . د پښتو په سوهیل - لوېدیځه لهجه کي د « ناري » نوي زیاته سوي مانا دا ده، چي یوه کلیوالي نجلی د مور او پلار د رضایت او مسلط دود و دستور پر خلاف د مېړه غوښتنه او انتخاب وکي . د داسي نجلی په باره کي نو عام خلګ وایي : « پلانی ناره وکړه . » د « ناري » دا نوی مفهوم یوازي په سوهیل- لوېدیځو پښتنو کي باب دئ؛ عربان څه چي د نورو سیمو پښتانه هم د عربي نعري له دي مانوي تطور او بدلون سره اشنا نه دي .

لکه څنګه چي ژوندي موجودات د خپل پايښت او بقا دپاره و ځان او ځای بدلولو ته اړ دي، ژبنی مسألي هم د نورو ټولنيزو پديدو او پېښو په شان، په نوي ماحول کي د ژوند او پايښت دپاره و ډول ډول بدلونو ته اړتيا لري . د همدې منطقي استدلال او ټولنيزي قانونمندۍ په رڼا کي پوښتنه دا ده : کله چي زموږ پلرو او نيکو د پردو ټکو، عبارتو او اصطلاحاتو له رنګ اړولو او جامي اليشولو څخه چاره نه لرله، ايا موږ کولای سود دې جبري او قهري بهير مخه ونيسو؟ مهمه لا دا چي ايا د دې شکلي او مانوي تغييراتو مخنيوی زموږ د ژبې، ادب او فرهنګ و راتلونکي پرمختګ ته څه ګټه هم لري که يا؟ د سليم عقل له مخي د دواړو پوښتنو جوابونه منفي دي؛ ځکه نه هيڅ ژبپوه او ليکوال په ژبه کي د سادګی او اسانی مخه نيولای سي؛ او نه هم په دې کار کي د منطق او تعقل څه څرک ليدل کيږي .

په دې توګه ګورو، چي له وينګ سره د کښنګ مطابقت يا نيژدې والی د پښتو ليکدود د بشپړتيا او پرمختيا تر ټولو مهمه او اساسي غوښتنه ده . د سوچه پالني د ورانوونکي او مردودي کړنلاري پر خلاف، په دې ډول همرنګي او نيژدې والي کي نه يوازي پښتو ژبه له هيڅ ډول پردو او مغلنو ټکو څخه نه بې برخي کيږي، بلکي نوره هم د سادګی، اسانی، ښکلا او پوخوالي پر خوا ګام اخلي؛ ځکه ژبه د يوه ژبپوه، لغتپوه، ګرامرپوه، شاعر او ليکوال بازيچه نه، بلکي د پراخو خلګو مال او ميراث دئ . هر څونه چي( چي يې) د ژبي ليکلي بڼه له ويلو سره يو رنګي او نيژدې والی ولري، په هغونه اندازه يي اولسي خوند او رنګ هم زياتيږي . يوازي دغه راز ژبه کولای سي د خپلو خلګو سم او ريښتينی استازيتوب وکي . د ژبپوهانو، څېړونکو، ليکوالو، شاعرانو، ژورناليستانو او نورو فرهنګپالو رسالت او مسووليت هم په واقعيت کي دا دئ، چي د ژبي او نورو کولتوري برخو همدا اولسي جوهر ژوندی او خوندي وساتي . بېله شکه، دا زرين اصل په عمل کي له ستونزو او پېچومو خالي هم نه دئ . د ليکني په دې برخه کي د دغه راز خنډو او حل لارو پر ځينو اړخو خبري کوو.

### د پښتو وينګ او کښنګ د همرنګیخنډونه اوحل لاري

- د پښتو ويلو او ليکلو د همرنګی په لار کي اول خنډ دا دئ، چي پښتو ژبه له بېلابېلو لهجو( ګړدودو) څخه جوړه ده . په داسي شرايطو کي که هر څوک د خپل مورني، کليوالي او محلي تلفظ له مخي ليکنه وکي، بيا خو د پښتو ژبي د يوه واحد معياري ليکدود په را منځ ته کولو او ترويج کي له خورا لويو کړاوو او سرخوږييو سره مخامخ کيږو؛ مثلاً« موږ » کليمه په پښتني قبيلو کي د « موږ »، « ميږ »، « مونګ »، « مينګ »، « موګ » او داسي نورو په بڼه ويل کيږي . که هر څوک دا ډول کليمي د خپل مورني او محلي تلفظ له مخي وکاږي، پښتو ژبه په کليوالي او محلي ډبوالو کي کلابنده پاتيږي؛ ځکه د يوې لهجي ويوونکو ته به هرومرو د بلي لهجي تلفظونه پردي او ناآشنا وبرېښي؛ او په دې توګه به د ژبي د يووالي او پرمختګ مخه ونيول سي . دا خنډ بايد څنګه له مخي ليري کو؟ په داسي اختلافي مواردو کي بې روغي جوړي يا ټولنيز تړونه بل هيڅ لار نه ليدل کيږي . له بېلابېلو مغيره تلفظو څخه به د سادګی، اسانی او عموميت د اصولو له مخي يو تلفظ د معيار په توګه ټاکل کيږي؛ او ټول به په همغه واحده معياري بڼه ليکني کيي . البته، معيار ټاکل په خپله هم د يوه يا دوو کسانو کار نه دئ . په دې ستر او ارزښتناک ګډکار کي بايد له علمي اصولو او معقولو لارو چارو څخه ګټه واخيستل سي .
- دوهم خنډ د هغو ټکو په ليکلو کي دئ، چي تلفظ يي په ځينو پښتو لهجو کي خپله اصلي او لرغوني بڼه اړولي ده . بايد هېر نه کو، چي د وينګ او کښنګ همرنګي يا د ويلو پر اساس ليکل، يوازي هغه مهال جايز ګڼل کېدای سي، چي د بېلابېلو کليمو په وينګ کي د ژبي و اصلي او لرغونو ځانګړتياوو ته زيان ونه رسيږي؛ مثلاً که څوک

« پښتو »، « پښتون »، « پښتونخوا »، « ښايسته »، « ښبناستل »، « ښبښوول/ ښبښودل »، « ښکنځل»، « ژبه »، « ژوبل » او داسي نور سپېڅلي ټکي د خپل مورني یا سیمه ییز تلفظ له مخي د « پختو »، « پختون»، « پختونخواه/ پختونخوا »، « خایسته/ خیسته/ خایشته / خیشته »، « کیناستل »، « کېښوول/ کېښودل »، «کنځل»، « زبه/ جبه »، « زوبل/ جوبل » او داسي نورو په بڼه کاري، دا کار قطعاً علمي جواز نسي لرلای؛ ځکه په دې ډول تلفظو کي د پښتو ژبي هغه سپېڅلي او لرغوني ږغونه اوښتي یا مسخ سوي دي، چي تر اوسه هم په ځینو پښتو لهجو کي په خپله اصلي او پخوانۍبڼه ژوندي دي . ژبپوهان او ادبپوهان پوهېږي، چي دغه راز ټکي پر « پټه خزانه » سربېره د روښانیانو، خټکو او پښتو ادب د منځنۍ دورې د زیاترو شاعرانو او لیکوالو په اثارو کي له « ښ » سره یو ځای کښل سوي دي . په بله وینا، د « ښ » ږغ د داسي ټکو نه بېلېدونکي برخه ده . تاسي په یوټیوب کي د مسودو او وزیرو خبري واروئ، تر اوسه پوري د « ښ » او « ږ » ږغونه د پښتو د جنوب - لوېديځي لهجي په شان، په خپله اصلي او لرغوني بڼه ادا کیږي . د پټي خزانې په حواله زموږ په لرغونو اثارو کي هر ځای « ږغ » راغلئ دئ نه « غږ » یا « غگ » .[۵] د خوشال خان ختک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) د دیوان او نورو اثارو په خطي نسخو کي هم دا ټکی هر ځای په خپله اصلي او لرغوني بڼه ( ږغ)کښل سوئ دئ .[۶] له نېکه مرغه، د افغانستان د علومو اکاډیمی له خوا د خوشحال خان خټک د خپرو سوو کُلیاتو په لومړي ټوک کي هم د سموونکو او اوډنکو له ساتوله خوندي پاته سوئ دئ .[۷] ښاغلي عبدالقیوم زاهد مشواني هم د ځینو کوچنییو موچنییو لاسوهنو پر خلاف، د خوشال خان ختک د کلیاتو په وروستي چاپ کي، په خپله اصلي او لرغوني بڼه ثبت کړئ دئ .[۸] د پښتو ادب د منځنۍ دورې په ځینو نورو اثارو کي هم دا کلیمه د « ږغ » په ډول راغلي ده .

لکه څنګه چي په « کیناستل »، « کنځل »، « ښبنل »، « نبنه » او داسي نورو باندي د « ښبناستل »، «ښکنځل»، « بخبنل »، « نخبنه » او داسي نورو الښېدل له تاریخي پلوه وروستی پېښنه ده، په « غږ » باندي د « ږغ » اوښتل هم اوږده سابقه نه لري . په ځینو خطي نسخو کي د « غږ » په بڼه د« ږغ » املا له ورایه د متأخرو کاتبانو او ناسخانو تصرف او لاسوهنه ګڼله کیږ ي . تاسي د وزیرو او مسودو خبري واروئ، تر اوسه پوري د « ښ » او « ږ » ږغونه د پښتو د جنوب - لوېدیځي لهجي په شان، په خپله اصلي او لرغوني بڼه ادا کیږي . له بلي خوا د « ږغ » پر ځای د « غږ » کارَونه د پښتو په جنوب - لوېدیځه لهجه کي د « غږ » له اسم صوت سره د التباس ستونزه هم پېښیږي؛ ځکه « بږ »، « سږ »، « غږ » او داسي نور په جنوب - لوېدیځه لهجه کي د ږغ د نامه یا اسم صوت په ډول استعمالیږي . سره له دې ټولو خبرو تاسي د بی بی سي او ځینو نورو راډیوګانو ویېپاڼي وګورئ، هر ځای یي د« ږغ » پر ځای « غږ » لیکلئ دئ؛ او په دې توګه یي خپل تحریف سوي تلفظ ته معیاري بڼه ورکړې ده؛ حال دا چي په دغو راډیوګانو کي د پښتو د جنوب - لوېدیځي لهجي داسي ډېر ویونکي هم کار کیږي، چي دا ټکی په خپله اصلي او لرغوني بڼه وایي . دا خبره سمه ده، که څوک د خپلو ژبنییو ارتیاوو له مخي د « ښبناستل »، « ښبښوول/ ښبښودل »، « ښکنځل »، « ږغ »، « ژبه »، « بخبنه » او داسي نورو پر ځای « کیناستل »، « کېښوول/ کېښودل »، « کنځل »، « غږ »، « زبه/ جبه » ، « ببنه » او داسي نور کاري، په دې کار سره اسمان نه را نړیږي . موږ ټول د هغوی په دې ضرورت او مشکل ښه پوهېږو؛ خو دا خبره باید تل په یاد ولري، چي خپلو تحریف سوواو مسخ سوو تلفظو ته باید هیڅکله معیاري بڼه ور نه کي؛ ځکه هیڅوک د هغو ږغیرو ځانګړتیاوو، ژبنییو اصولو او فرهنګي میراثو د اړولو او بدلولو واک نه لري، چي د پښتو ژبي په ځینو لهجو کي پخي او مزبوتي ریښي لري . د تعصب او تنګ نظرۍ له مخي د «

کښېناستل » پر ځای د « کیناستل » یا د « ږغ » پر ځای د « غږ » معیاري کول، له ورایه د پښتو ژبې د تباهۍ په مانا دي . په دې چې د« کښېناستل » او« کښاستل » ترمنځ فرق د« وېره » او « ببره »، « لیار » او « لار »، « رڼا » او« روڼا»، « شي » او « سي »، « شو » او « سو» او داسې نورو ټکو په شان ساده او معمولي لهجه يي بدلون نه دئ، بلکې په دغه راز توپير او بدلون کې د پښتو ژبې د اصيلو او لرغونو ږغود نابودۍ خطر نغښتی دئ .

هو، پر دې خبره باید باور ولرو، چې ژبه تل د تغییر او تحول پر خوا روانه ده؛ زموږ په تلفظو کې هم د طبیعي (جغرافیایي چاپېر او اقلیم) او غیر طبیعي ( سیاسي، اجتماعي، فکري، فرهنګي او اقتصادي) عواملو پر اساس پر له پسې بدلونونه راځي . که دغه راز بدلونونه د ژبې په ټولو لهجو کې پېښ سي، بیا خویې هيڅوک هم مخه نسي نیولای . هرومرو باید له هغو سره سم عمل و سي؛ خوکه یوې لهجې د ژبې اصالت او لرغونيتا ساتلي يي، بیا نو موږ ټولو ته ښايي، چې د انحرافي بدلونو په وړاندې د سموالي او اصالت پلوي وکو . که دا هم نسو کولای، نو لږ تر لږه خو باید د نورو د سمو او اصيلو تلفظود رواجولو او تعميم مخه هم و نه نیسو. زموږ پوه او باصلاحيته لوستونکې دې په خپله قضاوت وکي، چې د سليم عقل او پاخه استدلال خاوندان و دغه راز خپلسرو او غیرعلمي پرېکړو ته د معیار په سترګه کتلای سي؟! ایا دا نیمګړې، اومه او کاږه معیارونه پښتو ژبه یو ځای ته رسولای سي؟!

- د وينګ او کښنګ د مطابقت یا نیژدې والي په لار کې بل خنډ د التباسو او ګډوډيو پېښېدل دي، چې باید تر وسه وسه يې مخه ونیسو؛ مثلاً قوم/ قام عربي ټکی دئ، چې موږ يې په پښتو کې د « ق » نه لرلو په وجه د«کام »په بڼه وايو؛ او هغه بیا د پښتو له کام ( تالو،کومه، حلق)، د پهلوي/ پارسي له کام ( غوښتنه، هيله، نیت، هدف، مقصد، پلان)، د سنسکریت له کام ( غوښتنه، هيله، موخه، هدف، مقصد، نیت، پلان، مینه، محبت، عشق، الفت)او د هندي، اوردو، پنجابي او ځينو نورو هندي الاصله ژبو له کام ( کار، کِسب، دنده، وظیفه، کاروبار، خواري، غریبي، خدمت، چوپړ او داسې نورو) سره مانوي التباس پیدا کيي . دغه راز، که د قانون (**canon**) ټکی، چې په حقیقت کې له اوروپايي ژبو څخه وعربي ته تللئ دئ، د پښتنو د تلفظ له مخې د«کانون » په بڼه وکښل سي، د پاړسي ژبې له کانون ( مرکز، کوره، بټۍ او داسې نورو) سره د ګډوډېدو سرخوږی را ولاړيي . د چایو« شمه » او د روښانولو« شمعه » که دواړې په یوه املا وکښل سي، هرومرو وګډوډې او التباس ته لار پرانیزي . د « دُراني » کلیمه له پاړسي « دُر» څخه مشتق سوې ده، چې د ملغلري/ مرغلري په مانا ده، کې په واو ولیکو سمدستي له « دَوْراني » سره التباس پیدا کیي، چې د « دوران » له کليمې څخه اخيستل سوئ دئ . له دې رنګه التباسو او مغالطوڅخه د ژغورنې دپاره کېدای سي، د هرې لیکنې په پیل کې یو پلا د مفغن لیکدود تر څنګ، په قوسو یا لینديو کې، د پام وړ ټکي عربي لیکدود هم وکښل سي؛ او په هر هغه ځای کې بیا تکرار سي، چې له نورو مشابه ټکو سره د ګډوډېدو یا التباس پېچومه پيښيږي . سربېره پر دې باید ددغه راز کلیمو د ویلو او کښلو په همرنګ کولو کې تل له متانت او سړې سینې څخه کار واخیستل سي؛ ځکه زموږ اوسنۍ تقلیدي او تعاملي لیکدود پېړې پېړی چلېدلئ دئ، په اړولو کې هم باید پوره زغم او اتيات ( احتیاط) وسي . دا کار یقناً په سر کې خورا ګران او پېچلی ښکاري؛ خو کله چې نورو مفغنو ټکو لکه : جګړه، دنده، دوکه، کوښښ، تلاښ، اودس، ماناء، تسپې، مالوم، سوله، تابيه، لوبه، وس، خلګ/ خلک او سوو نورو ته وګورو، بیا نو په « الوا »، « هونر/ اونر»، « روستم »، « سوهراب » او داسې نورو باندې د« حلوا»، « هنر»، « رستم »، « سهراب » او زرو نورو عربي، پاړسي، هندي، تورکي، انګليسي او داسې نورو ټکو اړول هم څه مشکل کار نه دئ .

**د ويلو او ليکلو په همرنګی يا نيژدې والي کې د مرکبو ټکو د لنډولومسأله**

د پښتو په جنوب - لوېديځه لهجه کې له پخوانو زمانو څخه تر اوسه پورې د مرکبو ټکو د اختصار يا لنډولو(**contraction**) ځيني شکلونه کارېږي، چې مثالونه او بولګې يې د پښتو د منځنی دورې په منظومو او منثورو اثارو کې هم خورا ډېرې تر سترګو کيږي . د ژبې په وينګ او کښنګ کې د يو رنګی يا نيژدې والي اصل دا غوښتنه کيي، چې د شفاهي ژبې دا لرغوني، اصيل او ژوندی لنډوَني بايد د ژبې په تحريري بڼه کې هم هيڅکله له پامه ونه غورځول سي . د دی لنډو بڼو ځيني نموني دا دي :

- بي ( به يې) : چيرې بي يوسې؟ څوک بي واخلې؟ چاته بي ورکې؟ او داسې نور . لکه څنګه چې ښکاري، په دې جوملو( جملو) کې د« بي » اختصاري کليمه د هغه شي (**object**) دپاره استعمالېږي، چې مخکې يې په خبرو کې يادونه سوې يې .

- تي ( ته يې) : احمد تي ورکه! دوی تي ورکه! ما تي را که! او داسې نور . دا لنډ سوئ ټکی زياتره په سمتي يا استقامتي (**dative**) بڼه کارېږي .

- چي ( چې يې) : نوی چي رانيوئ، سم نه ؤ؛ له کوره چي وشړئ، په لېونتوب اخته سو؛ له کندهاره چي کډه وکړه، سيده وکراچي ته ولاړئ؛ او داسې نور .

- څي ( څه يې) : څي ورکړه؟ څي وغوښته؟ څي ولېده؟ او داسې نور ، چې زياتره په پوښتنو کې کارېږي .

- دي ( دې يې) : مورِ ته دي را کې؟ دوی ته دي يو سې؛ مؤقت حکومت ته دي وسپاري؛ او داسې نور .

- زي ( زه يې) زي غوارِم؛ زي ولېدم؛ زي تر سترګو بنه نه ابسم؛ او داسې نور .

- کي ( کې يې) : په دوکان کي هېر کړئ دئ؛ په جېب کي دئ؛ په الماری کي ايښئ دئ؛ او داسې نور . دا لنډ سوئ ټکی هم د هغو شيانو دپاره کارېږي، چې مخکې يادونه سوې يې .

- کي ( که يې) : کي سوغات بيرته ورکم، خدای مکړه خوابدی نسي؛ کي امانت سم و نه ساتو، غاړې مو بنديږي؛ کي روغه جوړه ونه کړه، خدای دې و ټولو ته خير پيښ کې؛ او داسې نور . لکه څنګه چې ګورو، دا لنډه بڼه زياتره په شرطي جوملو کې استعماليږي . په جنوب - لوېديځه لهجه کې د « کښې/ کي » او « کي » تر منځ لوی توپير سته، چې هيڅکله يې بايد په خبرو او ليکنو کې له ياده و نه باسو. په دې لهجه کې د ظرفي حالت (**locative**) د افادې دپاره همېشه له « کښې » او « کي » اداتو څخه کار اخيستل کيږي لکه : په جيب کي/ کښې؛ په کور کي/ کښې؛ په ښار کي/ کښې او داسې نور ؛ حال دا چې کي ( په مجهوله يا اوږده يا) لکه څنګه چې مخکې وويل سوه، د « کې يې يا که يې » مخففه بڼه ده . د پښتو په لرغوني ادب کې هم دا ټکي کټ مټ په همدې بڼه او همدې مفهوم کار سوې دي . د پښتو نورې لهجې د« کې » اختصار سوې بڼه د ظرفي « کي/ کښې» پر ځای کاريږي، چې علمي اساس نه لري؛ مثلاً د « په کور کې » عبارت له « په کور کې يې » سره التباس پيدا کيږي .

- کي ( وکړې) : « کي » د « کول » له مصدر څخه اخيستل سوئ دئ . د لنډون يا اختصار دا شکل هر ځای په ندايي(**vocative**) بڼه ويل کيږي لکه : احمده! دا کار به وکي؟

- مي ( مې يې) : پيسې مي ورکړې؛ خونه مي ور پاکه کړه؛ کالې مي ور اوتو کړه؛ او داسې نور . په دې ټولو مثالو کې د « مي » مخفف ټکی په اضافي (**genitive**) بڼه کارېږي .

- ني ( نه يې) : ني ورکوم؛ ني غوارِي؛ ني منو، او داسې نور .

- وي ( وه يي) : چي وي ليدئ، ډېر خوشاله سو . چي وي كتله، ډېره خوابدي سوه . چي وي واهه، سمدلاسه پر مځكه ولوېدئ؛ او داسي نور.

- غه ( هغه) : زما موبايل ستاسي تر غي ښه دئ؛ زما امتحان ستاسي تر غي گران ؤ؛ زموږ چمن ستاسي تر غي لوی دئ؛ او داسي نور . د اختصار يا لنډون دا بڼه د پښتو د منځنۍ دورې په منظوم ادب كي هم خورا ډېر مثالونه لري . د معيار ناپوه او بې خبره محتسبين دغه راز جوملې هر ځای په بشپړ ډول كاږي، چي نه يوازي د جنوب - لوېديځي لهجي د ويونكو له ږغيزو جوړښتو او سكښتو سره سمون او برابري نه لري، بلكي زموږ له مكتوب ادب سره هم ښكاره مغايرت لري : زما موبايل ستاسي تر هغي ښه دئ؛ زما امتحان ستاسي تر هغي گران ؤ؛ زموږ چمن ستاسي تر هغي لوی دئ؛ او داسي نور .

- غو ( هغو) : ستاسي تر سيمو زموږ غوته ډېر تاوان رسېدلئ دئ؛ ستاسي تر انارو زموږ غو ډېر بار كړئ دئ؛ ستاسي تر غو زموږ لاسی خامک ډېر ښه دي؛ او داسي نور .

- ول ( ويل يي) : ول زه به درسم؛ ول زه بې كار وركم ؛ ول موږ بې دروږو او داسي نور. په دې ټولو جوملو كي « ول » د غايب شخص ( مفرد او جمع) دپاره د لنډون يا اختصار په بڼه كارېږي . د پښتو په نورو لهجو كي د « ول » پر ځای « وي » لنډه بڼه پراخ استعمال لري .

- څه (څخه) : له/ د چا څه دي واخيستئ؟ له كور څه نه راږول كيږي؛ له محمود دوی څه يي غوښتل ښه كار نه دئ؛ او داسي نور . په دې جوملو كي « څه » د « څخه » پر ځای په مخففه بڼه كار سوئ دئ . البته، د پښتو په نورو لهجو كي د دې مخفف ټكي پر ځای له « نه » څخه كار اخلي .

اوس چي مو د پښتو په سوهيل - لوېديځه لهجه كي د ځينو مركبو كليمو لنډ سوي شكلونه وليدل، دا پوښتنه پيدا كيږي، چي موږ ولي د شفاهي ژبي دا مأنوس، مروج او لرغوني شكلونه په ليكنو كي هم نه كاږو؟ ايا په انگرېزي ژبه كي د(ain’t, can’t, won’t, ‘m, ‘ve, ‘re, ‘d) په څېر لنډوَني له تحريري ژبي څخه حذف كړي دي؟ تر ټولو مهمه خو لا دا چي، ايا د « چي » پر ځای د « چي يي » او د « كي » پر ځای د « كي يي » ليكل، ژبه له خپل لرغوني اصالت او اولسي تومني څخه نه بې برخي كيي؟! ايا موږ په اصطلاح ژبپوهان، ليكوال، شاعران، ژورناليستان او نور فرهنگيان دا حق لرو،چي دغه راز ټكي هرومرو په بشپړه او تشريحي بڼه وكاږو؛ او له دې لاري په لوی لاس د ژبي د وينگ او كښنگ تر منځ واټنونه پيدا كو؟! ايا دا ډول لاسوهني د ژبي له ږغيزو خصوصيتو، دود او دستور سره ښكاره مخالفت نه دئ؟! ايا ځوک د دې روښانه حقيقت له منلو څخه نټه كولای سي، چي ژبه د خلگو مال او ملكيت دئ؛ فرهنگيان يي يوازي د خوندي كولو، غوړوَلو او بډايولو رسالت او مسووليت پر غاړه لري؟! ايا دا خبره څه تعقل او منطق لري، چي خلگ عملاً په يوه ژبه ږغېږي؛ او موږ د ژبپوه، اديب، ليكوال، شاعر، ژورناليست او داسي نورو په نامه، په بله ژبه ږغېږو؟! راسئ ريشتيا ووايو، ايا زموږ اوسنی لغوږنه او زموخته مطبوعاتي ژبه د پښتون اولس يا دري ژبو خلگو د خوږي، ساده او اسانه ژبي استازيتوب كولای سي؟! هر څوک پوهېږي او خپله رايه يي . زما رايه دا ده، چي په پښتو او دري دواړو كي زموږ جعل سوی رسمي او مطبوعاتي ژبه هيڅكله د خلگو د اسانه او ساده ژبي طبيعي ښكلا او خوږوالی نه لري . زموږ رسمي او مطبوعاتي ژبه ورځ په ورځ د پردو هيوادو د فرهنگي يرغلو، د فرهنگي واكمنانو د خپلسرو او غير علمي پرېكړو، ډول ډول تعصبو او تنگ نظريو په وجه، له خپل اولسي رنگ او جوهر څخه بې برخي كيږي . د دې ستر فرهنگي ناورين د بېلابېلو علتو او عواملو هر اړخيزه شننه او څېړنه، اوږد بحث دئ،چي په دې لنډو ټكو كي هيڅكله حق نسي ادا كېدلای .

پاته لري

نوټ:

۵ محمد هوتک، پټه خزانه، به تصحیح و تحشیه و تعلیقات عبدالحی حبیبي ( کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۲۳) ۲۳، ۲۹، ۶۱، ۱۲۷ . . .

۶ وګورئ : په بریټیش کتابتون کي د خوشال خان خټک د دیوان د ځینو خطي نسخو د الماریٔ نخښي :

**B.M.Or.2800-Foll.119**

**B.M.Or.4229-Foll.511**

**I.O.MSS.Pashto D.1-Foll.310**

**B.M.Or.4492-Foll.262**

۷ خوشحال خان خټک، د خوشحال خټک کلیات ، لومړی ټوک ( د غزلونو برخه)، د دوست محمد دوست، څېړندوی محمد صدیق روهي، څېړندوی محمد اکبر معتمد، څېړنمل محمد اسمعیل سربن، څېړنمل محمد عارف غروال، څېرنیار عبدالواحد واجد، څېړنیار نور الله ولسپال، څېړنیار محمد عمر وزیر، څېړونکي عبدالباري جهاني او سعدالله په زیار ( کابل : د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو انستیتوټ، ۱۳۵۸) ۳۸، ۱۸۱ . . .

۸ خوشال خان خټک، د خوشال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم زاهد مشواني اوډنه، پرتلنه، سمون او وییپانګه ( کابل : دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴) ۲۹، ۱۱۳، ۴۰۳، ۵۱۲ . . .